


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



د مجیب الرحمن « خطیبي » لیکنه
د نشر نیټه : ۳۰ می ۲۰۱۳ میلادی

# ستا په یاد وي

اي ساقی
شیبه شیبه تا پلو ګورم
په ده هیله
چې
ته به هم ما پلو وګوري
میني څه څه
چې
راته ورنښودل
بیا هم په هیله یم
چې
ته به وګورې
ګوره
بیا مي هیر نه کې
له ډیره غمه
له ډیره حسرته
بس مړیني ته
نږدی شوي یم
د مرګ
زولني مې
په غاړه شوې
خو بیا هم
راغلي یم

ستا نوم مې
په خوله دی
وینې ؟
څنګه لاس مې
رېږدی
څنګه شونډ مې
رېږدی
څنګه زړه مې
رپېږي
بس داسې څه راکه
چې
پښیمانه مې نه کی
بس
مری وسیزي
زړه وسیزي
ځیګر وسیزي
عقل وسیزي
داسې مست شم
چې ورك ورك شم
بس
خیال اوسی
جام اوسی
ته اوسی
زه اوسم
وروسته له مستی
نه خیال وي
نه جام وي
بس ته وي
بس
ستا اوږه وي
چې
سر مې ایښی وی
ما هیر کړی وی
خو
ستا په یاد وی
ستا په یاد وی

مجیب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org